# C برخه: د چرګ پالنې تنظیمول

## دوهم لوست: د چرګ پالنې د سامانونو تنظیم، او غذا یا خوراکه

**د زده کونکو د زده کړې موخې یا هدفونه:** زده کونکي به ددې لوست په پایله کې د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي، ددې لوست تشریحات به د لاندې موخو یا هدفونو د لاسته راوړنې سبب شي:

١ . د چرګانو لپاره د غذا یا خوراکې جیره
٢ . د فیل مرغانو لپاره د جیرو تنظیمول
٣ . د مرغاوۍ او قازونو لپاره د جیرو تنظیمول
٤ . هغه سامانونه چې د چرګ پالنې د تنظیم په خاطر ورځخه استفاده صورت نیسي.

**د لوست د تدریس لپاره وړاندیز شوي وخت:** ٢ ساعته

**وړاندیز شوي منابع یا زیرمې:** لاندې منابع یا زیرمې کیدلی شي چې په دې لوست کې ګټوري واقع شي. د درسي پلان د غوره مخکې وړلو لپاره نوموړي پلان په پاورپواینټ کې هم تهیه شوي دي.انټرنیټ د باغونو د حشراتو د کنترول په برخه کې کافي معلومات لري. په دې برخه کې لاندې ځني منابع ذکر شوي دي:

- A PowerPoint has also been developed for use with this lesson plan

**د سامانونو، وسایلو، لوازمو او اساسنتیاوو فهرست یا لیک لړ**

- تحریري یا د لیکنې صفحه
- د پاورپواینټ سلایدونه
- روښانه سلایدونه
- د الوتونکو د غذاګانو مختلفې برخې

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني به په دې لوست کې وړاندې شي( نوموړې اصطلاح ګاني د پاورپواینټ په ٢ شمیره سلاید کې په ایتالیک ډول سره ښودل شوي دي)

- Grit وړې تیکې
- Palatability دلچسپي

**په زړه پورې تکلاره:** له یوې په زړه پورې تکلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چې زده کونکي د لوست د زده کړې لپاره اماده کړې. ښوونکی اکثره د خپلو

ځانګړو ټولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تګلاري تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندي تګلاره کیدلی شي چي د یوې ممکنه تګلاري په ډول سره ورڅخه یادونه وکړل شي:د مرغاوی Duck ، چرګ Chicken ، او قاز و Goose لغاتونه په تخته باندي نوشته کړئ. له زده کونکو پوښتنه وکړئ چي ایا ټول خلک ورته غذاګاني خوري. هغوي ښایي ځواب ورکړي چي هو! اوس له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چي دا ټول الوتونکي عین شی غذاګاني خوري؟ له هغوي نه غوښتنه وکړئ هغه شیان چي دا چرګان ورڅخه استفاده کوي لست کړي او له دي نه وروسته چي هغوي ځواب و وایي چي دا ټول الوتونکي ورته غذا خوړلی شي یا یي نه شي خوړلي. له هغوي نه پوښتنه وکړئ چي روښانه کړي چي دوي ولي په عقیده دي. دا بحث د لوست د لومړی موخي یا هدف په لوري سوق کړئ.

**د محتویاتو یا منځ پانګو لنډیز او درسي ستراتیژي ګاني**

لومړی موخه یا هدف : د چرګانو لپاره د غذا یا خوراکي جیره

**(د پاورپوایښت ۳ شمیره سلاید)**

۱ . د چرګانو د مناسبي تغذي لپاره غذایي مواد یا غذایي عناصر برابر کړئ چي د هغوي دنورمال نمو او ژوندانه لپاره ضروري او اړین وي.

A . د چرګانو په غذایي جیره کي شپږ نوعه موادو ته اړتیا لیدل کیږي، پروتین،شحمیات، شکري، معدني یا منرالي مواد، ویټامینونه او اوبهٔ.

B . د چرګانو په جیره انرژي اکثره د دانه بابو او شحمو پواسطه برابریږي.

۱ . چرګان ددي توان نه لري چي زیاته فائبر لرونکی خوراکه یا غذا په مصرف ورسوي.

۲ . د چرګانو جیري باید تقریباً له ۵۰-۸۰ فیصدو پوري دانه باب تشکیل کړي.

C . هرکله چي د هغوي په جیره کي دانه باب استعمالیږي باید میده شوي وي .

۱ . جوار باید په دلیدلی شکل سره میده شوي وي.

۲ . جودر ، ( وربشي) او Millet (      ) په نازکه توګه میده شوي وي.

۳ . غنم باید د ژرنديِ( roller ) پواسطه پروسس شوي وي .

**(د پاورپوایښت ٤ شمیره سلاید)**

D . په غذا یا خوراکه کي باید چي شحم له ۱۰ فیصدو نه زیات نه وي.

۱ . شحم په زیاتي اندازې سره د هضم قابلیت، زیاته مزه، د جیري خاوره او ګرد کموي او د غذا ترکیب اصلاح کوي.

۲ . هغه جیره چي د شحم لرونکي وي په ګرمه هوا کي په تیزی سره ورستیږي پرته له دي چي په کیمیاوي توګه اصلاح شوي وي.

**(د پاورپوایښت ٥ شمیره سلاید)**

E . پروتینونه هغه ضروري امینواسیدونه چي د چرګانو لپاره په خوراکه کي اړین دي تهیه او برابروي.

۱ . ډیر عام امینو اسیدونه کومو ته اړتیا لیدل کیږي عبارت دي له ارجنین،لایسین، میتیو نین، او ترپیټوپان څخه.

۲ . د پروتين عمده زيرمي د الوتونکو په جيره کي له سايوبين، غوښي، د غوښي پاتي شونو او کب له پوډرو نه په لاس راځي.
**(د پاورپواينټ ٦ شميره سلايد)**

F . اوبه يو ډير مهم عنصر دی چي د الوتونکو د بدنه لويه برخه تشکيلوي.
۱ . د چرگ عمر د اوبو مصرف تعينوي.
A .د برايلر يا غوښينو ۱۰۰۰ قطعي چرگانو مصرف په يوه ورځ کي په حدود د ۲۰ ليترو د يوي اونی په عمر کي وي او ۳۸۰ ليتره په اتمه اونی عمر کي اړيني دي.
B . هگی ورکوني نوعي چي هگی ورکولو ته نژدې وي ۱۰۰۰ قطعي په يوه مياشتني عمر کي ۲۰ ليترو اوبو او ۲۰ مياشتني عمر کي ۱۷۰ ليتره اوبو ته اړتيا لري.
C . په نسلي او هگی ورکونکو ۱۰۰۰ قطعي چرگانو کي په يوه ورځ کي ۱۸۹ ليتره اوبه په مصرف رسوي
۲ . د تودوخې د درجې لوړوالی هم د اوبو مصرف زياتوي.
A . چرگان په گرمو ورځو کي نسبت يخو ورځو ته دري چنده زياتي اوبه په مصرف رسوي.
**(د پاورپواينټ ۷ شميره سلايد)**

G . اکثره غذايي جيره د منرالونو يا معدني موادو پواسطه عوض کيږي .
۱ . د چرگانو په برخه کي منرالي موادو ته اړتيا شامله ده په کلسيم، فاسفورس، منگنيز، ايودين، سوديم، کلورين او زنک څخه.
۲ . داسې سپارښتنه کيږي چي هگی ورکونکي چرگانو په خپله جيره کي بايد ۳،٤ فيصده کلسيم ولري .
A . د هگی ورکونکو چرگانو په برخه کي کلسيم ډير مهم رول لري، دا ځکه چي د هغې شتوالی د هگی د پوستکی د جوړښت لپاره ضروري دی .
**(د پاورپواينټ ۸ شميره سلايد)**

H . نور ترکيبات لکه وړي تيگي په غذا کي علاوه کيږي ترڅو له سنگدان سره په ميده کولو کي مرسته وکړي له دي کبله چي چرگان غاښونه نه لري.
۱ . وړي په وړو اندازو، منځنيو، او لويو اندازو سره تهيه کيدلی شي.
۲ . د هغې کوچنی اندازه چورگوړو ته او غټي اندازې يي هگی ورکونکو چرگانو ته ورکول کيږي.
B . وړي تيگي ځوانو چورگوړو ته په اونی کي دوه ځلی په غذا باندې په شيندلی شکل سره ورکول کيږي.
**(د پاورپواينټ ۹ شميره سلايد)**

د پاورپواينټ دا شميره سلايد د وړو تيگو يوه نمونه يا بيلگه له کومو څخه چي د چرگانو په خوراکه کي استفاده کيږي ښايي. په دي وړو تيگو کي د جغل او دريايي صدف وړي ټوټي شاملي دي. هغه چرگان چي په ازادانه توگه پالل کيږي د غذايي

د پیداکولو په وخت کې په ځمکه کي په زياتي اندازې سره وړي تیګي خوري په دي اساس د هغوي په غذا کي د هغې علاوه کول ضروري نه ګڼل کیږي. د چرګانو جیره په لاس راوړئ چي په عامه توګه د چورګوړو په تغذیه کي استعمالیږي. د هغې مختلفي برخي په خام شکل سره برابري کړئ ترڅو زده کونکي د غذا هره برخه له مخلوط کولو څخه دمخه وګوري له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چي دا وټاکي چي کوم غذايي عناصر د دي مرکباتو پواسطه تهیه کیږي .
دوهمه موخه یا هدف : د فیل مرغانو لپاره د جیرو تنظیمول

**(د پاورپوائینټ ۱۰ شمیره سلاید)**

۱۱ . د چرګانو غذايي جیره د هغي له ګلې او د هغې په نوعي او عمر سره اړیکه لري .
A . د فیل مرغانو تغذیه کول
۱ . Poults (ځوان فیل مرغان) له هګۍ نه د راتو وروسته باید په ډیرۍ تیزۍ هغوي ته اوبه او خوراکه ورکول شي .
A. که چیري له ۳٦ ساعتونو څخه په زیاتي اندازې سره اوبه او خوراکه معطل کړل شي په دي صورت کي ځوان چورګوړي د غذا خوړلو په برخه کي له ستونزو سره مخامخ کیدلی شي.
**(د پاورپوائینټ ۱۱ شمیره سلاید)**

B . د ځوانو چورګوړو لپاره ستارټر Starter جیره ( د چورګوړو لپاره لومړنۍ جیره) چي د ۲۸ فیصدو پروتین لرونکی وي د یوي اونۍ لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي .
C . د ٤ نه تر ٦ اونۍ عمر پوري ستارټر Starter جیره( د چورګوړو لومړنۍ جیره) دي ورکول شي چي د ۲٦ فیصدو پروتین او لوړي سطحې انرژۍ لرونکي وي .
D . د ۱۰۰۰ قطعو چورګوړو لپاره په هره ورځ کي د اوبو مصرف د عمر په یوه اونۍ کي ۳۸ لیتره او د ۸ اونۍ په عمر کي ۳٦۰ لیتره دي.
**(د پاورپوائینټ ۱۲ شمیره سلاید)**

هغه فیل مرغان چي د نمو په حال کي دي د لسمې اونۍ په عمر کي کروندې ته وړل کي.
A . کرونده باید چي هم علوفه او هم دانه باب ولري.
B . هغه فیل مرغان چي د نمو په حال کي دي باید د جنس په اساس سره جلا کړل شي دا ځکه چي د هغې نر په زیاتي اندازې سره پروتین ته اړتیا لري.
C . که چیري فیل مرغانو ته کامله مخلوط شوي غذا ورکول شي په دي صورت کي ښه وزن اخلي.
**(د پاورپوائینټ ۱۳ شمیره سلاید)**

١ . نر فيل مرغ د ٨-١٢ اونۍ په عمر کي او ښځينه فيل مرغ د ٨-١١ اونۍ په عمر کي بايد ورته هغه جيره ورکول شي چي د ٢٢ فيصدو پروتين لرونکي وي
١١ . د نر فيل مرغ لپاره د ١٢-١٦ اونيو په عمر کي او ښځينه فيل مرغۍ لپاره د ١١-١٤ اونۍ په عمر کي ورکونکی جيره بايد د ١٩ فيصدو پروتين لرونکي وي.
١١١ . د نر فيل مرغ لپاره د ١٦-٢٠ اونۍ په عمر کي او د ښځينه فيل مرغۍ لپاره د ١٤-١٧ اونۍ عمر کي بايد ورکونکی جيره د ١٦،٥ فيصده پروتين لرونکي وي
.

**(د پاورپواينټ ١٤ شميره سلايد)**

iv. ١١١١ . د نر فيل مرغ لپاره چي د ٢٠-٢٤ اونۍ عمر ولري او ښځينه فيل مرغ چي د ١٧-٢٠ اونۍ په عمر کي ورکونکي جيره بايد د ١٤ فيصدو پروتين لرونکي وي.

v. نر فيل مرغ په مجموع کي د ٢٤ اونۍ په عمر کي او ښځينه فيل مرغ په ٢٠ اونۍ عمر کي حاصل ته رسيږي.

**(د پاورپواينټ ١٥ شميره سلايد)**

D . د ١٠٠٠ قطعو فيل مرغانو د هري ورځي د اوبو مصرف ٤٣٥ ليتره اوبه د ٩ اونۍ په عمر او ٧٥٧ ليتره د ٢٠ اونۍ په عمر کي اړيني بلل کيږي.

**(د پاورپواينټ ١٦ شميره سلايد)**

٣ . د نسل اخستنې فيل مرغ بايد د ١٦ اونۍ په عمر کي د نسلي ګلې لپاره انتخاب کړل شي

A . ښځينه نسلي فيل مرغ د ١٦-٣٠ اونيو په عمر او نر فيل د ١٦-٢٦ اونيو په عمر کي ١٢ فيصده غذايي رژيم اخلي .

B . له دي نه وروسته ١٤ فيصده ورکول کيږي.

C . د نرانو فيل مرغانو لپاره د ٢٦ اونۍ په عمر کي د نسل اخستنې جيره ورکول کيږي چي دا د هغې وزن کنترولوي په داسې حال مي ښځينه جنس هرڅومره چي خوړلی يي شي ورکول کيږي.

له زده کونکو سره د نارينه او ښځينه فيل مرغانو په منځ کي د شتون لرونکو توپيرونو په برخه کي بحث وکړئ. له هغوي نه غوښتنه وکړئ چي ولي بايد جيره هر کله چي فيل مرغان نمو کوي عيار شي؟ او همدارنګه ولي دنارينه او ښځينه فيل مرغانو په جيره کي توپيرونه شتون لري؟

دريمه موخه يا هدف : د مرغاوۍ او قازونو لپاره د جيرو تنظيمول

**(د پاورپواينټ ١٧ شميره سلايد)**

iii. مرغاوۍ او قاز په ورته توګه غذا ته اړتيا او ضرورت لري.

A . د دوه لومړنیو اونیو لپاره چي سټارټر جیره کومه چي د ۲۲ فیصدو پروتین لرونکي وي پیل کیږي او ټول شرایط ورته مساعد کیږي ترڅو هغوي يي وخوړلی شي.
**(د پاورپواینټ ۱۸ شمیره سلاید)**

۱ . قازونو ته دي اجازه ورکول شي چي وروسته له دي چي هغوي دوه اونیو عمر ته ورسیږي د ورځي په جریان کي په څړ ځای کي و ګرځول شي.
A . د قازونو لپاره د هغوي په غذا یا خوراکه کي وړي تیګي کومي چي د حل کیدو قابلیت ونه لري علاوه کیږي .
B . هرکله چي د قازونو عمر اوس هم څو ورځي وي نو د علوفي په خوړلو پیل کوي او هرکله چي د هغوي عمر پنځه یا شپږو کالو ته ورسیږي خپل ټول ضروریات له څرځای څخه پوره کولی شي.
۱ . هر کله چي دا کار سرته رسیږي نو د نمو ورکونکی جیري سپارښتنه او توصیه کیږي.
C . که چیري څړ ځای د ښه کیفیت لرونکي نه وي په دي صورت کي باید چي په تغذیه کي دانه باب علاوه کړل شي.
**(د پاورپواینټ ۱۹ شمیره سلاید)**

۲ . هر کله چي قازونو ته د څړ ځای اجازه ورکول شي د هغوي لپاره دانه باب د دوه نه دریو څخه تر ۱۸ اونۍ عمر پوري ترڅو چي حاصل ورکول ته ورسیږي، ورکول کیږي.
**(د پاورپواینټ ۲۰ شمیره سلاید)**

B . مرغاوۍ کولی شي چي په کمل احاطه شوی ځای او یا هم په نمو کونکو مرغانچو کي وپالل شي.
۱ . د مرغاوۍ لپاره د لامبو او لوبو کولو لپاره اوبه برابری کړی شي ترڅو په هغې کي تمرین وکړي.
۲ . د سټارټر غذایي رژیم کوم چي د ۲۲ فیصدو پروتین لرونکي وي د دوه اونیو لپاره ورکول کیږي.
۳ . د سټارټر غذایي رژیم نه وروسته هغوي ته هغه غذایي رژیم پیل کیږي چي ۱۸ فیصده پروتین ولري چي د اخري غذایي رژیم په نامه یادیږي چي ۱٦ فیصده پروتین په هغې کي شامل وي، تغذیه کیږي.
**(د پاورپواینټ ۲۱ شمیره سلاید)**

٤ . مرغاوۍ اکثره د ۷-۸ اونیو په عمر کي مارکیټ ته اماده کیږي .
٥ . مرغاوۍ کولی شي چي له شنو غذاګانو څخه استفاده وکړي لیکن نه د قازونو په اندازې سره .
٦ . د مرغاوۍ لپاره څرځای یا ورشو ضروري نه ده .
**(د پاورپواینټ ۲۲ شمیره سلاید)**

C . د دواړو مرغاوۍ او قازونو لپاره باید چي تازه اوبه تهیه کړی شي او هغوي هر وخت باید هغې ته لاسرسی ولري.
۱ . مرغاوۍ او قاز زیاتي اوبه په مصرف رسوي.
۲ . د اوبو ځآی د هغې لپاره داسي ډیزاین کیږي چي مرغاوۍ او قاز په هغې کي لامبو ونه شی کړی. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چي د قاز او مرغاوۍ د تغذي په تنظیم کي د اختلافاتو او ورتوالو یو لست واخلي. د هغوي ځوابونه په یوه چارټ یا جدول کي په تخته باندې ولیکئ.
ځلورمه موخه یا هدف : هغه سامانونه چي د چرګ پالنې د تنظیم په خاطر ورڅخه استفاده صورت نیسي
**(د پاورپواینټ ۲۳ شمیره سلاید)**

iv. هغه سامانونه چي په الوتونکو کي د غذا، اوبو او ارام محیط د برابرولو لپاره ورنه استفاده کیږي ډیر ضروري دي او د الوتونکو تولیدات زیاتوي

**(د پاورپواینټ ۲٤ شمیره سلاید)**

A . پاکې اوبه باید چي د تل لپاره برابري شوي وي.
۱ . د یوي وړي ګلې لپاره غوره دي چي اتومات د اوبو لوښي په یخه ساحه د پنجرې کي کښیودل کیږي.
A .اتومات د اوبو لوښي د غټي ګلې لپاره ښه کار کوي او د وخت له ضایع کیدلو نه په کوم کي چي چرګانو ته اوبه ورکول کیږي، مخنیوی صورت نیسي.
۲ . که چیري غیري اتومات د اوبو لوښو نه استفاده صورت نیسي په دي صورت کي د اوبو د لوښو شمیر د بیا ځل لپاره ډکیږي چي دا کار باید په نظر کي ونیول شي.
۳ . د اوبو د لوښو نوعیت همدارنګه د چرګانو د نوعي او تغذې پوري اړه لري.
A . مرغاوۍ او قازونه دي ته میلان لري چي د اوبو په لوښو کي لامبو وکړي په دي لحاظ د هغوي لپاره داسي د اوبو لوښي تهیه کیږي چي د هغوي د لامبو نه مخنیوی وکړي.
**(د پاورپواینټ ۲۵ شمیره سلاید)**

**د پاورپواینټ دا شمیره سلاید د چرګانو لپاره د معمولي اوبو لوښي ښایي ، هغه سرپوښونکی چي پورته چپ لوری ته ځآی لري هغه لري کیږي او د هغې په داخل کي اوبه اچول کیږي چي په دي صورت کي د اوبو کاسه هم ډکیږي او مصرف په وخت اوبه د چرګانو پواسطه په کراره توګه د اوبو کاسې ته جریان پیدا کوي. دا سلاید همدارنګه د یوي اتوماتیک اوبو لوښی ښایي. دا سیستم د دایمي تهیه کونکو اوبو سره په تماس کي ځوړند وي هر کله چي چرګ اوبه له دي سیستم نه خوري نو د اوبو پایپ د اوبو اندازه دوامداره ساتي او په دي ترتیب دا حالت دوام کوي.**
**(د پاورپواینټ ۲٦ شمیره سلاید)**

B . د الوتونکو د ټولو نوعو لپاره مرغانچي عموميت لري.
۱ . مرغانچي بايد چي په اسانۍ سره پاکي او ضد عفوني کړل شي.
۲ . ټولي مرغانچي بايد په کافي اناازې سره د هوا جريان تهيه کړي ترڅو له اضافي لمدوالی نه مخنيوی رامنځته شي.
۳ . د وړو چوزګوړو لپاره يو ګروپ يا هم د ګرمولو نوري الي ضروري دي ترڅو چي د هغوي لپاره تودوخه برابره کړي او هغوي له يخنۍ نه وساتي.
(د پاورپواينټ ۲۷ شميره سلايد)

C . د کاروبار د پراخوالی د اندازې له نظره د چرګ پالنې د اوبو او خوراکې اتوماتيک لوښي بايد شتون ولري.
۱ . دا بايد په منظمه توګه پاک وساتل شي.
۲ . د وړو ګلو لپاره بايد د انتقال وړ د اوبو او خوراکي لوښي استعمال کړل شي.
(د پاورپواينټ ۲۹ شميره سلايد)

د پاورپواينټ دا شميره سلايد د ازادې ساحي د مرغانچو دري تصويرونه په ګوته کوي. په هغې کي زيات ډيزاينونه شتون لري له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ ترڅو هغه فکتورنه او عوامل چي په مرغانچي باندې اثر لري وټاکي.
(د پاورپواينټ ۲۹ شميره سلايد)

د پاورپواينټ دا شميره سلايد د الوتونکو څخه د ګټي اخستني دوه تصويرونه په ګوته کوي. دسلايد پورته چپ لوري کي يوه تصوير د مرغانچي بيرون ښکاره کوي. د هغې دوه اړخونه خلاص دي ترڅو د هوا جريان ته اجازه ورکړي. لاندني ښی لوری ته تصوير د مرغانچي داخل ښکاره کوي چي په هغې کي په ازادانه توګه چرګان د کوټي په سطحه ګرځي. د مرغانچي په ښی لوری کي چرګان د تغذې په حال کي دي د اوبو لوښي د خوراکو د لوښو په مقابل کي ځای لري. داسې معلوميږي چي دا چرګان د غوښې په منظور پالل کيږي .
(د پاورپواينټ ۳۰ شميره سلايد)

د پاور پواينټ دا شميره سلايد په افغانستان کي چرګانو لپاره ښودل شوي. د اوبو اتومات لوښي وګورئ چي له چت نه ځوړند دي.
(د پاورپواينټ ۳۱ شميره سلايد)

د پاورپواينټ دا شميره سلايد د الوتونکو څخه غټه ګټه اخستنه ښکاره کوي ليکن چرګان ځای بند دي. وګورئ د نوموړي مرغانچي دواړه خواوي خلاصي دي ليکن پورته يي هوا کشونه شتون لري. چرګان د پنجري په داخل کي پالل کيږي خوراکه اخور ډوله د خوراکو لوښو ته د کمربند لرونکي آلې پواسطه انتقاليږي. دا چرګان د هګيو د توليد په موخه ساتل کيږي. چپ ښکته لوری ته هګۍ مشاهده کيږي. هغه چرګان چي د هګيو په منظور ساتل کيږي په مجموع کي په پنجرو کي ځای بند ساتل کيږي.
(د پاورپواينټ ۳۲ شميره سلايد)

د پاورپوائنټ دا شمیره سلاید په افغانستان له چرګانو څخه د ګټې اخستنې یوه وړوکی سیستم ښکاره کوي. هغه د دانې لوښي چې پورته چپ خواته ځآی لري، غیر اتومات د دانو لوښي دي چې باید د لاس پواسطه په مناسبي اندازې سره ډکي شي.
(د پاورپوائنټ ۳۳ شمیره سلاید)

د پاورپوائنټ دا شمیره سلاید هغه الوتونکي چې په ازادانه توګه تربیه کیږي ښکاره کوي.وګورئ چې څرځای د زیاتي اندازې علوفه لرونکی دی.
(د پاورپوائنټ ۳٤ شمیره سلاید)

د پاورپوائنټ دا شمیره سلاید له قاز څخه د ګټې اخستل ښکاره کوي الوتونکي په مرغانچه کي ساتل کیږي لیکن هغوي په عین حال کي اجازه لري چې له احاطي نه د باندې په څړ ځای کي ګشت وکړي.
(د پاورپوائنټ ۳۵ شمیره سلاید)

د پاورپوائنټ دا شمیره په افغانستان کي د یوي وړي ګټې اخستنې تصویر ښکاره کوي. وګورئ چې لاندې چپ لوري ته تصویر چې په هغې کي چرګان په انفرادي بکسونو کي د کباب په منظور تربیه کیږي. دوه پورته تصویرونه هغه چرګان ښکاره کوي چې د ګرځیدلو لپاره اجازه لري او لاندې ښی لوری ته هغه مرغاوۍ مشاهده کیږي چې په ازادانه توګه ګرځي. له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ ترڅو د اوسیدو د ځآی د تنظیم په برخه کي دمرغاویو لپاره اړین دي او د نورو چرګانو سره یي مقایسه یا پرتله کړئ او خبري پري وکړئ.
(د پاورپوائنټ ۳٦ شمیره سلاید)

په دي ځآی کي د هګیو چرګانو څخه د ګټې اخستنې یوه بیلګه په تړلی سیستم سره لیدل کیږي. چرګان په پنجره کي هګۍ ورکوي دا هګۍ وروسته له پنجري نه د پنجري مخکې لوري ته په پتنوس کي لول خوري. په دي نوعه ګټه اخستنه کي هګۍ د تسمه لرونکو انتقالونکو پواسطه مرکزي موقیعت ته د پروسس لپاره حرکت کوي.
(د پاورپوائنټ ۳۸ شمیره سلاید)

په دې ځآی کي د وړې ګټې اخستنې لپاره د تغذې عادې میتود شتون لري. غذا یا خوراکه په ځمکه کي پاشل کیږي او چرګان هغه په مېنوکه وښي چې هغه واخلي د تغذې په دي سیستم کي وړي تیګي اضافه کول ضرور نه دي له دي کبله چې چرګان وړي تیګي له غذا سره یوځای له ځمکې نه اخلي. له هغو معلوماتو څخه چې د تولید په دي ٤ نوعو سیستمونو کي ورنه بحث وشو، استفاده وکړئ. لومړی لوست ۲۸ شمیره او ۳۸ شمیره سلایدونه د بیا ځل لپاره ښایي. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ایا دا سیستم محلي، نیمه محلي، تجارتي او نیمه تجارتي سیستم دی. له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ ترڅو د هغو سامانونو په برخه کي چي د چرګانو د پالنې لپاره ضرور دي خبري وکړي هغوي دي په علیحده ګروپونو کي وي او ددي نوعه موادو لست د چرګ پالنې د پیل لپاره لازم

**دی پس ترتیب یي کړئ. د دې فعالیت د تکمیل لپاره اضافي مواد او یا انټرنیټ د زده کونکو لپاره په اختیار کې ورکړئ.**

**بیا کتنه\خلاصه یا لنډیز:** د زده کړو موخو څخه په استفادې سره لوست خلاصه یا لنډیز کړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د هري موخې پوري تړلي منځ پانګي تشریح کړي. د هغوي له ځوابونو څخه د یوه بنسټ په توګه د هغو موخو د تعین او ټاکنې لپاره کومي چي د بیاکتنې لپاره مختلفو تکلارو ته اړتیا لري، تر استفادې لاندې ونیسئ. له هغو سوالونو څخه چي د پاورپواینټ په ۳۹ شمیره سلاید کي شتون لري هم په دي برخه کي استفاده کولی شئ.

عملی کار : له زده کونکو نه غوښتنه وکړي چي د چرګانو له یوه تولیدونکی سره ملاقات وکړي یا هم د چرګانو له تولیدونکی نه غوښتنه وکړئ چي تولګی ته راشي او ورسره مذاکره وکړئ چي هغوي خپلو چرګانو ته څه تغذیه کوي. څنګه دا ټاکلی شئ چي څه باید تغذیه کړل شي، کوم سامانونه استعمالیږي او ځني نور موضوعات چي د چرګ پالني په منجمنټ کي شامل دي خبري پري وکړئ .

**ارزیابی:** ارزیابی باید د زده کونکو په لاسته راوړنو باندي متمرکزه وي کومه چي له درسي موخو څخه وي. په دي برخه کي مختلف تخینکونه د استعمال وړ دي، د بیلګي په توګه په غوښتنیزو فعالیتونو باندي د زده کونکو اجرا کوني. په لیکلي بنه امتحان یا ازموینه ددي درسي مواد شامله دي.

**نمونه یي امتحان ته ځوابونه:**

مقایسه(پرتله کول)

١ . Patability د غذا مزه اصلاح کوي.

٢ . الوتونکي غاښونه نه لري په دي لحاظ د وړو تیګو علاوه کول ضروري دي ترڅو د غذا له پروسس سره د هاضمې په سیستم کي مرسته وکړي.

٣ . د هغوي پاکول او ضدعفوني کول باید اسان وي. کوټه باید په کافي اندازې سره د هوا جریان ولري ترڅو د لمدوالی نه مخنیوی وشي. په مرغانچو کي باید د چورګوړو د ګرمولو لپاره تودوخه برابره کړی شي.

٤ . کلسیم د هګیو په انکشاف کي یو مهم منرال شمارل کیږي، د کلسیم د منرال کموالی د هګی د پوستکی د نازکوالی او ضعیفوالی سبب کیږي.

صحیح \ غلط

٥ f

٦ t

٧ t

٨ f

٩ t

f ١٠
نمونه يي امتحان يا ازموينه

نوم..........................

امتحان يا ازموينه

c برخه دوهم لوست: د چرګ پالنې سامانونه، تغذيه او منجمنټ
لومړۍ برخه: لنډ ځوابونه:

هدايت يا لارښونه : لاندې لغاتونه برابر کړئ ترڅو لاندې جملي بشپړي شي.
١ . Patability څه دي او ولي د چرګانو په تغذيه کي مهم دي ؟
٢ . ولي د چرګانو په تغذيه کي د وړو تيګو اضافه کول ضروري دي ؟
٣ . په عامه توګه د چرګ پانې تولي مرغانچي د څه شی لرونکي وي ؟
٤ . ولي د هګۍ ورکونکو چرګانو په تغذيه کي د کلسيم شتوالی حتمي دي ؟

دوهمه برخه
هدايت يا لارښونه : که چيري جمله صحيح وي د هغې په مقابل کي t او که چيري غلطه وي د هغې په مقابل کي د f توری نوشته کړئ .
٥ ...... چرګان د دي توان لري چي زياته فايبر لرونکي غذا پروسس کړي.
٦...... د تودوخې زياتوالی په چرګانو د اوبو د زيات مصرف سبب کيږي.
٧...... د چرګانو په غذايي رژيم کي د انرژي غټه برخه له شحمياتو نه په لاس راځي.
٨..... په جيره کي ضروري امينو اسيدونه د منرالونو پواسطه تهيه کيږي .
٩........ هرکله چي د فيل مرغ چورګوړی له هګۍ نه را ووځي هرڅومره چي ژر وي ورته خوراکه اواوبه ورکړي.
١٠........ مرغاوۍ او قاز کولی شي چي په عين اوبو کي له کومو څخه چي د څښلو لپاره استفاده کوي، لامبو وکړي